د افغانستان اسلامي جمهوریت

د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت

د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د بېلابېلو رسنیو درنو استازو، لیدونکو، اورېدونکو، خویندو او ورونو السلام علیکم ور حمة الله و برکاته!

د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، د جلالتماب ولسمشر له هدایاتو او لارښوونو سره سم ویاړ لري، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون په اساس او د دولت په کړنو کې د شفافیت او حساب ورکولو لپاره، د تېر ۱۳۹۹مالي کال د کړنو او فعالیتونو راپور له خپل ولس سره شریکوي.

## درنو حاضرینو!

په سر کې اجازه راکړئ چې له فرصته په استفادې سره د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت پر تاریخ لړه رڼا واچوم او وروسته به یې د تېر مالي کال فعالیتونه درسره شریک کړ او په اخر کې به د رسنیو د محترمو استازو پوښتنو ته ځواب ووایو.

د پخواني پاچا اعلیحضرت امیر امان الله خان غازي د واکمنۍ پر مهال په ۱۳۰۰ لمریز کال کې په شاهي دولت کې قبایلو او سرحدي مسایلو ته د رسیدګي لپاره یو مدیریت رامنځته شو. دغه مدیریت د سردار شاه

محمود خان د صدارت پرمهال ریاست او د شهید سردار محمد داود خان د صدارت په دوره کې د کابینې په چوکاټ کی مستقل ریاست او وروسته د جمهوري نظام په رامنځته کېدو سره وزارت ته ارتقا وکړه، او اوس د سرحدونو او قبایلو وزارت په نوم يادیږي.

د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت په ۱۳۹۹ کال کې ۱۴۴۷ تنه تشکیل درلود، چې په شلو سرحدي او ډیورنډ کرښې ته څېرمه ولایتونو کې ریاستونه او په دیارلسو نورو کې آمریتونه لري چې د وزارت د دويمي واحدونو په توګه کار کوي.

**ګرانو هېوادوالو!**

**د وزارت لرلید**

د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت لرلید دا دی چې د قومونو او قبایلو د انسجام او همکارۍ په مرسته ملي یووالي پیاوړی کړي، خلک وهڅوي چې د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ او د خپلواکۍ د ساتنې په ملي وجیبو کې خپله ونډه ادا کړي. دغه راز دا وزارت د هېواد د سرحدونو په ساتنه او دفاع کې مهمه ونډه لري. همدا رنګه پر ډیورنډ فرضي کرښه له نژدې څارنه کوي.

**د وزارت ماموریت:**

د قومي او قبایلي جرګو او شوراګانو له لارې په هېواد کې د سولې د ټینګښت، د قومي شخړو د حل او د دولت او ولس ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا لپاره کار کوي.

همدارنګه د هېواد د نا امنو سيمو او د ډيورنډ فرضي کربنې ته څېرمه مېشتو قومونو او قبايلو د اقتصادي، فرهنګي او ټولنيزې پياوړتيا او تعليمي ودې لپاره هلې ځلې کوي.

**موخې:**

- د سرحدونو په ساتنه کې ونډه د سرحدونو او ډيورنډ فرضي کربنې څارنه او ارزونه؛
- د قبايلو او قومونو يووالی؛
- متوازن انکشاف؛
- قومونه د دولتي پروګرامونو په تطبيق کې ونډې اخيستلو ته هڅول؛

اوس هم په تېر مالي کال کې د وزارت فعاليتونه او لاسته راوړنې

درسره شريکوو او پيل د بوديجې له لګښت څخه کوو:

**د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت د عادي او انکشافي بودجې د لګښت څرنګوالی!**

په تېر مالي کال کې مو د عادي بودجې لګښت ۸۵ سلنه او د انکشافي بودجې لګښت ۷۶ سلنه و، چې د ماليې محترم وزارت ته په خپل وخت سپارل شويدي.

**تدوير جرګه ها و ورکشاپها**

چنانچه معلوم است، وزارت امور سرحدات و قبایل همزمان در بخش های سیاسی، اجتماعی، فرهنگی و بررسی سرحدات فعالیت می نماید. در بخش اجتماعی یکی از مهمترین فعالیت این اداره تدویر جرگه ها به منظور حل و فصل منازعات خرد و بزرگ، گسترش حاکمیت قانون و مسایل دیگر می باشد.

این اداره در سال مالی ۱۳۹۹ به تعداد (۲۸) جرگه و ورکشاپ در ولایات کابل ، ننگرهار، کندهار، هلمند، هرات، لوگر، پکتیکا، فاریاب، پکتیا، خوست، لغمان، جوزجان، بغلان، بدخشان، کونړ، بامیانو ، زابل، پروان، نیمروز، کندز ،کابل وتخار دایر نموده است.

درین جرگه ها و ورکشاپ ها که در مجموع بیش از ۱۱۰۰ هزار نفر در آن شرکت ورزیده بودند، روی موضوعاتی از قبیل تاکید بر صلح با عزت که همه ارزش های دو دهه گذشته افغانستان در آن رعایت شده باشد، تا کید بر آتش بس دایمی، حمایت از نیرو های دفاعی وامنیتی کشور و جلب همکاری مردم در تطبیق پروژه های عام المنفعه مانند اعمار بندهای آب، احداث سرک ها، توزیع تذکره الکترونیکی شده است.

همدا راز دغو جرګو د خلکو ترمنځ د شخړو په هواري کې هم مهمه ونډه اخیستې ده. د بېلګې په ډول:

په تېر مالي کال کې موږ په خوست ولایت کې یوه جرګه وکړه چې موخه یې د ځنګلونو د وهلو بندول او د کانونو د ناقانونه استخراج

مخنيوی و. په دې جرګه کې د خوست او پکتيا اوسېدونکو تعهد وکړ چې نور به دغلته چاته د ځنګلونو د وهلو اجازه نه ورکوي. دا جرګه چې اوس يې څو مياشتې تېرې شوې دي له برکته يې د ځنګلونو وهل په ټپه درېدلي دي چې دا زموږ ټولو لپاره يوه لويه لاسته راوړنه ده.

## قومي شوراګانې او د شخړو هواری

قومي شوراګانې دولت او ولس ترمنځ د يوه پل حيثيت لري. کار يې د قومي منازعاتو او شخړو حل او ځانګړتيا يې دا ده چې د سيمې او منطقې د رواج او دودونو په اساس پرېکړې کوي. دا مهال وزارت څه باندې ۴۶۰ شوراګانې ثبت کړې دي چې له دوی څخه د قومي شخړو په هواري او د دولت د ملي اجنډا په تطبيق کې استفاده کوي.

وزارت ددغو شوراګانو په مرسته په تېر کال مالي کال کې په لغمان ولايت کې ۵۷ قومي شخړې حل کړې چې تجارتي، کورنۍ، جزايي او حقوقي شخړې وې. ۱۰۳ شخړې په ننګرهار کې زموږ د همغږۍ مرکز له لوري د همدې شوراګانو په همکاري حل شوې دي او فيصلې يې موجودې دي.

۲۷ نورې شخړې، په بلخ، فارياب ، جوزجان، سمنګان، کې حل شوې دي. په لوګر او پکتيا کې زموږ قومي شوراګانو ۷ شخړې هوارې کړې دي. دغه راز په کندهار، باميان او غزني کې ۱۲ شخړې حل شوې دي.

زه دلته د بېلګې په ډ ول دوه لويې شخړه يادوم. د نورستان په کامدېش ولسوالۍ کې د کشتوز او کامدېش دوو قومونو ترمنځ د اوبو پر سر يوه پخوانۍ شخړه موږ هواره کړه. دا تقريبا د څلورو لسيزو اوږده شخړه وه چې له ۱۳۷۲ کال تر اوسه پورې ۴۵۰ تنه پکې له دواړو خواوو وژل شوي و او ۲۵۰ کسان پکې د ماشومانو او ښځو په ګډون ټپيان شوي و . ددې شخړې په هوارې کې حکومت په وار وار هڅه وکړه او په وروستي ځل په افغانستان کې د ملګرو ملتونو نمايندګي هم هڅه وکړه چې دا شخړه هواره کړي خو نتيجه يې ور نه کړه. په دې وروستيو کلونو کې د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت ددې شخړې په هواري لاس پورې کړ او د تېر مالي کال په لومړيو کې يې دا شخړه هواره کړه چې د ولسمشرۍ د عالي مقام له لوري د همدې لاسته راوړنې پر اساس د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت وستايل شو. ددغې شخړې فيصلې د تطبيق لپاره اوس د نورستان په محکمه پرتې دي چې رسنۍ کولای شي له هغې ادارې څخه ددې شخړې نور جزيات ترلاسه کړي.

دويمه بېلګه د لوګر ولايت په خاکې دښته کې د ځمکې پر سر د کوچيانو او ځايي خلکو ترمنځ شخړه ده چې ځاني او مالي زيان يې هم لاره. دا پنځوس زره جريبه ځمکه وه چې دواړو لورو پرې دعوه لرله او د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت د جمهوري رياست له هدايت سره سم پکې مداخله او منځګړيتوب وکړ او شخړه يې په سوله ييز ډول هواره کړه.

دا وزارت له خلکو سره له نژدې کار کوي او قومونه هم دې وزارت ته په دې هیله مراجعه کوي چې له همدغه ستیجه به یې غږ بلې هرې ادارې ته رسیږي.

په تېرو څو میاشتو کې مې شخصا له څو زره کسانو سره کتلي دي. د دوی ستونزې مې اورېدلې دي او له نورو ادارو سره مې د حل په خاطر شریکې کړې دي. هرات ته د سفر پر مهال مې د تورغونډۍ له مشرانو سره وکتل. هغوی راته وویل چې ښوونځی لري خو ښوونکی پکې نشته او دویمه ستونزه یې د څښاک د اوبو د نشتوالي وه. کابل ته په راستنېدو مې د پوهنې او د کلیو پراختیا له وزارتونو سره دغه ستونزې شریکې کړې او هغوی یې راته د هوارې ډاډ راکړ.

## حاضرین گرامی

شما بهتر میدانید که وزارت امور سرحدات و قبایل مستقیما با مردم رابطه دارد و این رابطه ایجاب می کند که در مناسبت های مختلف ما مهماندار مردم خود از بدخشان تا نیمروز و از نورستان تا فاریاب می باشیم.

در سال گذشته با وجود محدودیت هایکه از خاطر کوید ۱۹ بوجود آمده بود، ما در مهمانخانه های مربوطه خویش از ۱۳ هزار تن بزرگان اقوام، شخصیت های با نفوذ، جوانان و فعالان مدني پذیرایی و مهمانداري نموده ایم.

**اقدامات مهم و اساسي جهت مبارزه با فساد اداري**

1. کمیته مبارزه با فساد اداری در وزارت امور سرحدات و قبایل ایجاد شده است و به طور منظم و مسلسل فعالیت های این وزارت را تحت بررسی قرار می دهد که در نتیجه سطح شفافیت بالا رفته است.
2. کمیته مبارزه با فساد اداری با سکرتریت ویژه مبارزه با فساد اداری هماهنگی و ارتباطات به موقع دارد.
3. جهت جلو گیری از فساد اداری بهترین راه، آگاهی دهی از قوانین میباشد فلهذا این کمیته سعی نموده تا در ین عرصه به کارمندان آگاهی دهی نمایند.

وزارت امور سرحدات و قبایل برای افزایش شفافیت و جلوگیر از فساد یک میکانیزم جدید برای نظارت و ارزیابی ایجاد نموده. این گام باعث شده که شفافیت، موثریت و اقتصادیت در مصرف بودیجه تا هشتاد درصد بالا رفته است.

**دربخش تعلیم و تربیه:**

وزارت امور سرحدات و قبایل از دیر زمان، متعلمین مناطق جنگ زده و نا امن کشور را تحت پوشش قرار می دهد و برای آنها سهولیت های تعلیمی را در مرکز و ولایات قندهار، خوست و ننگرهار تهیه نموده است.

درین چهار ولایت وزارت امور سرحدات و قبایل شش لیسه و یک انستیتیوت بنام انیستیتوت بایزید روشان دارد که همه آن به طور لیلیه در خدمت متعلمینی می باشد که نسبت مشکلات امنیتی، اقتصادی و غیره نه میتوانند در مناطق خود درس های خویش را تعقیب نمایند.

این لیسه ها توانایی جذب ۴۰۰۰ متعلم به طور لیلیه دارا می باشند، اما در سال گذشته مالی نسبت به مشکلات که از شیوع مرض کرونا پیش آمده بود، تعداد جذب شده گان جدید کاهش نموده است.

کیفیت درسی این مکاتب قناعت بخش می باشد چنچانچه در سال گذشته مالی ۷۶۷ تن از فارغین لیسه های مربوطه این وزارت در آزمون کانکور شرکت نموده بودند که به تعداد ۴۰ تن به طب ، ۹۷ تن به انجنیری  و دیگران به پوهنځی های متباقی راه یافتند.

قابل یاد آوری است که تمام دروس مضامین سانیسی به سیستم تری دی تدریس می شود.

**د تحقیق او مطالعاتو برخه**

د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت په خپل چوکاټ کې د تحقیق او مطالعاتو یو ریاست لري چې د وزارت د کاري استقامت اړوند مسایلو په اړه تحقیق او مطالعات کوي او د خپلو مطالعاتو نتایج له نورو دولتي ادارو سره د پلان او پالیسۍ جوړولو په موخه شریکوي.

په تېر مالي کال کې مو درې ولایتي پروفایلونه جوړ کړي چې د متوازن انکشاف پر وړاندې شته ستونزې یې په نښه کړې او بیا مو د هغو پر بنسټ پیشنهادونه جوړ کړي او اړوندو ادارو ته مو د اجراتو لپاره لیږلي دي.

دغه راز له چین او ایران سره زموږ پر سرحد د شته ستونزو په اړه څېړنې شوې او د اجراتو لپاره اړونده ادارو ته سپارلې شوې دي.

د یادونې وړ ده چې له افغانستان څخه نورو هېوادونو ته د بهېدونکو اوبو او له هغوی سره تړلیو سرحدي او سیاسي مسایلو په اړه مو یو سیمنار هم جوړ کړی و.

**در بخش اطلاعات وآگاهی عامه**

وزارت امور سرحدات و قبایل جهت تنویر اذهان عامه و انعکاس اجراات و فعالیت های خویش به نشر و چاپ مجلات، جراید و کتب گوناگون می پردازد.

در سال گذشته مالی به تیراژ ۱۲۰۰۰جلد مجله جرگه به زبان پشتو، ۸۰۰۰ جلد مجله هموطن به زبان های دری، پشتو، اوزبیکی، ترکمنی ، نورستانی، شغنی، گوجری و گواری ، ۴۰۰۰ جلد مجله جاش به

زبان نورستاني دری و پشتو و جریده تارا به زبان پشه، جریده یلدوز به زبان ازبیکی در بلخ و جریده گوراش به زبان ترکمنی در جوزجان نشرات دارد.

این مجلات به طور مجانی توزیع گردیده و در روشن ساختن اذهان عامه در رابطه به پالیسي ها و کارکردهای دولت و پروژه های ملی مانند تذکره الکترونکی، پروژه های تاپی و کاسایک هزار، مبارزه با مواد مخدر و مدیریت آب، و منابع طبعی، حفاظت محیط زیست و همچنان توقف قطع جنګلات نقش مهمی را ایفا نموده است.

باید متذکر شد که در چوکات ریاست اطلاعات و ارتباط عامه این وزارت مدت سه سال می شود که مرجع اطلاع رساني ایجاد گردیده است و طبق قانون دسترسي به اطلاعات به خبرنګاران ومتقاضیان همواره اطلاعات و معلومات دقیق و به موقع ارایه شده است.

**د ډیورند فرضي کرښې او له نورو هېوادونو سره د پولو په اوږدو کې د سرحدي سرغړونو کشف او څېړنه**

د ډیورنډ فرضي کرښې او له نورو هېوادونو سره زموږ پر پولو بېلا بېل ډولونه سرغړونې شوې دي. د سرحدونو چارو وزارت د خپل کاري استقامت په پام کې نیولوسره دغه سرغړونې، کشف او ثبت کړې دي او د لا ډېرو اجراتو لپاره یې اړونده ادارو ته استولې دي.

له ایران سره پر پوله چې ۹۲۵ کیلومتره اوږدوالی لري سرحدي پیلرونه نوي شوي دي او له څو لسیزو وروسته یو ځل بیا صفري نقطې تثبت او په نښه شوې دي.

امو سیند چې اوبه یې افغانستان ته حیاتي ارزښت لري خو له بده مرغه هر کال د افغانستان خاوره هم له ځان سره وړي. د امو سیند تخریبات ټول تثبیت شوي دي او د تحکیماتو لپاره یې د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت یوه طرحه د اوبو د تنظیم ادارې او نورې اړوندو ادارو سره شریکه کړې ده، هغوی کار کوي چې تحکیمات جوړ او زموږ خاوره خوندي شي. اما دلته باید یادونه وکړم چې د امو سیند د تخریباتو معنی دا نه ده چې ګني د نورو هېوادونو سرحدونه رامخکې شوي دي، بلکې صفري نقطې اوس هم پر خپل ځای دي او د تحکمیاتو له جوړولو وروسته به صفري نقطې بیا تازه او خپل پخواني وضعیت ته راشي. د یادونې وړ ده چې د سرحدي نقطو او نورو مسایلو د ثبیت لپاره اوس پر خریطو سربېره له عصري ټیکنالوجي څخه کار اخلو او ټولې نقطې مو جي پي ایس کړې دي.

**بخش منابع بشري**

بخش منابع بشری همواره در تلاش است تا کادرهای ورزیده، مجرب و دارای تحصیلات عالی را به این اداره جذب نماید. برای رسیدن به این هدف تمام امتحانات ورودی وزارت را الکترونیکی ساخته که از یک سو شفافیت تامین گردیده و از سوی دیگر لایق ترین افراد به

وزارت می پیوندند. همچنان پالیسی منابع بشری وزارت تهیه نموده است که سرعت و شفافیت کار را افزایش داده است.

**بخش تشکیل منابع بشری**

- در تشکیل منظور شده سال مالی 1399 به تعداد(50) بست بنام لیسه قبایلی ولایت خوست تزئید گردیده است.

**د ظرفیت د لوړونې پروګرامونه**

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د وزارت د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره ۳۷ پروګرامونه جوړ کړي دي. په دې پروګرامونو کې د انګلیسي ژبې، مدیریت، د کمپیوټر زده کړه او نور مسلکي مسایل شامل دي. په دې پروګرامونو کې اووه سوه کسان روزل شوي دي.

همدا راز د وزارت ټول تشکیل د HRMIS سیستم ته شامل شوی دی چې دا د الکترونکي حکومتولي په برخه کې یو مهم ګام دی. ددې کار ګټه دا ده چې له دې وروسته تغییر تبدیل، انفصال او تقاعد ټول ددې سیستم پر بنسټ مخکې ځي او په راتلونکي کې به معاشات هم د دې سیستم پر بنسټ اجراء کیږي.

**د جنډر برخه**

د لومړي ځل لپاره د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت کې د جنډر د برابري پالیسي جوړه او د عملي کېدو پلان يې چمتو شو چې په ۱۴۰۰ کال کې به عملي شي او ورسره به د جنډر اړوندو مسایلو کې پرمختګ وشي.

د وزارت د جنډر برخې په تېر کال کې د ښځو د پیاوړتیا لپاره بېلا بېل ورکشاپونه جوړ کړل او دغه راز یې هغوی ته مدیریتي او مسلکي پروګرامونه عملي کړل.

**د وزارت پرمختیایي پروژې**

په ۱۳۹۹ مالي کال کې درې ساختماني او دوه خدماتي پروژې عملې شوې او اوس د بشپړېدو په حال کې دي.

د وزارت د اړوند پرمختیایي پروژو چارې که څه هم کرونا ویروس ټکنی کړې، خو بیا هم د همدې پروژو بودیجه له ۶۰ څخه تر۹۰ سلنې پورې لګېدلې ده.

د یادونې وړه ده، چې وزارت د لومړي ځل لپاره وتوانید، چې خپل ۵ کلن ستراتیژیک پلان جوړ او تطبیق کړي.

## د راتلونکي کال پلان:

- د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت د ستراتیژۍ جوړول؛
- په ۱۴۰۰ کال کې د وزارت له لوري د بدخشان د پامیر په ګډون یو شمېر سرحدي سیمو کې د نویو لیسو جوړول او ورسره به شته لیسو ته له پلان سره سم له سرحدي او نا امنو سیمو څخه نوي زده کوونکي جذب شي؛

- د جیودوزی او کارتو گرافی د نورمونو سره سم به د روزگان، بامیان او لغمان ولایتونو لپاره معلوماتي پروفایلونه جوړ شي. دغه پروفایلونه د متوازن انکشاف او پالیسي جوړولو لپاره خورا مهم دي؛
- د الکترونیکي حکومتوالۍ پیاوړتیا لپاره د وزارت د بېلابېلو څانگو دیجیټل کول؛
- ټولټال ۱۵ انکشافي پروژې په پام کې نیول شوې چې په دې کې په یو شمېر ولایتونو کې د سرحدونو او قبایلو چارو ریاستونو لپاره د نویو ودانیو جوړول هم شامل دي. دغه راز دوه خدماتي پروژې هم لرو چې یوه یې موبتا ریفوم او بله یېBTMIS ده.

له پاملرنې مو ډېره مننه

تل دې وي افغانستان، پاینده باد وحدت ملي

با احترام

محب الله صمیم

وزیر امور سرحدات و قبایل